د الله تعالى په وړاندې تر ټولو مبغوض انسان هغه دی چې تل سخت جګړه مار وي

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایي: «د الله تعالى په وړاندې تر ټولو مبغوض انسان هغه دی چې تل سخت جګړه مار وي».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله - جل جلاله - له هغو خلکو څخه کرکه کوي چې سخت جګړه مار او زیات جګړه کوونکی وي؛ هغه چې حق ته غاړه نه ږدي او هڅه کوي چې حق په خپلو دلایلو سره په شا وتمبوي، یا دا چې په حقه جګړه کوي خو په شخړه کې د اعتدال له حد نه اوړي، او له علم پرته شخړه کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5474